## رحمت شاه سائل

متن الوتے، دستخط وران، تت ئې عنوان پاتې دے
خيال د جانان، راته د سپين کاغذ په شان پاتې دے

دا چې اوتر پکښې په شان د لېونو ګرځمه
په دې کوځو کښې رانه زړۀ پاتې دے ځان پاتې دے

حالاتو څۀ هم کۀ په ټوله دنيا وشيندلم
زما په زړۀ زما د خپل وطن جانان پاتې دے

راکاږي ورو په ورو حالات زما د پښو نه زمکه
خالي خالي راته د ستورو نه آسمان پاتې دے

چې د جانان کلي ته رسم سوزېدلے به يم
اوس مې منزل په داسې اور اور بيابان پاتې دے

چرته چې وريژېږي هغلته را وتوکېږي
داسې باور مې لا د ګل په خاندان پاتې دے

ما له به خوب رانۀ شي، ما له به قرار را نۀ شي
ما ته په سر د مينې نوے امتحان پاتې دے

لا مې د زړۀ نه د ښائست ښاپېرې تلې نۀ دي
لا مې په لاس کښې د جانان د لاس ريحان پاتې دے

نغمه نغمه به ئې کرم زړونه به پرې ودړدوم
لا په پرهر سينه مې څو تاره ګرېوان پاتې دے

لکه ربدے په وينو ډوب د خندا ډکه خُلۀ داغ
زما په زړۀ داغه يو ياد د مهربان پاتې دے

عشقه جذبه د الوتو مې درنه مړاوې نۀ شي
ګني په هر ګوټ پېر کښې يو نۀ يو زندان پاتې دے

خدايه رڼا کړه پرې د ټول راتلونکي نسل زړونه
زما په زړۀ کښې د مودو مودو ارمان پاتې دے

د نن دنيا کښې څنګ په څنګ اوسي وحشت او مينه
وحشت شکست خوړي وارد مينې د مېدان پاتې دے

هغه زړۀ چاودې اور اور غنې غنې لار د وفا
ستا مئين هغسې په هغه لار روان پاتې دے

په د وطن غمه ما وخوړې کۀ تا وخوړم
چې سُود دې چا ته رسي ماته دې تاوان پاتې دے

د ناداني د کوره نۀ وځي هوښياره دنيا
حُسن هوښيار شو عشق لا هغسې نادان پاتې دے

مړاوې کېدو ته به دې پرې نۀ ږدم د شونډو ګلاب
ستا د سائل سترګو کښې اوس هم لا باران پاتې دے

## ډاکټر اسرار

خپلوي شوې ورکې رحم ورک شو الفتونه ورک شو
زما په يادو د دنيا نه ډېر څيزونه ورک شو

چرته يو ځائے شي چرته کښېني د ښکلا مئينان
چرته چې مينې زېږېدې هغه ځايونه ورک شو

سپرلے هم هغسې راځي ګلونه هم غوړېږي
چې په ښکلا مئين وو هغه نظرونه ورک شو

سرونه ډېر دي په دنيا کښې هيڅ کمے نشته دے
چې پکښې عقل او سېڼۀ هغه سرونه ورک شو

د ژوند صحرا کښې به اوس خپله چرته لار وباسم
زما نه ستا د قدمونو نشانونه ورک شو

اوس مېخوارانو سره څۀ دي بې د اوښکو څښلو
ساقي شو ورک، مېکده ړنګه شوه، جامونه ورک شو

## ډاکټر صاحب شاه صابر

د لېونې د خُلې خبره دې کړم
غمه خوشحاله شې سندره دې کړم

نن ئې په مړاوي کتو مړ نۀ شومه
رقيبه خوار شې د نظره دې کړم

غېرته خود مې څۀ پکار رانغلې
خو د چا توره د چا زغره دې کړم

بانۀ دې مۀ ګرموه مۀ وېرېږه
مړ دې کړم خېر دے خو په نره دې کړم

ما هسې هم په دار جوته غوښتله
مينې خوشحاله شې چې غوره دې کړم

صابره ستا ياري مې ومنله
بې زړۀ دې نۀ کړم بې ضرره دې کړم

## شمس بونیرے

د ګنډون لارې پېدا شوې د ګډون لارې پېدا شوې
ایله اوس زمونږ ترمېنځه د ژوندون لارې پېدا شوې

دا چې زۀ پرې نن ولاړ یم دا به نۀ ورکېږي مانه
د سبا لارې پېدا شوې د پرون لارې پېدا شوې

دا چې هرې خوا ته ګېرۀ نۀ لار ښود ۀ نۀ ئې مل ۀ
خپل منزل ورته ښکاره شو د پښتون لارې پېدا شوې

چې زما حجره خوره شوه چې زما جومات قبضه شو
په حجره او په جومات کښې د بنتون لارې پېدا شوې

تاریخونه داسې وائي یوه خاوره وه یو قام وو
چې دښمن دلته کښې راغے د بېلتون لارې پېدا شوې

جنګ جدل دلته کښې وشو مړي وشو، ژوبلې وشوې
دښمنان کمزوري کېږي د سکون لارې پېدا شوې

دا جرمن پرون جدا ۀ ولې نن هغه دے یو دے
اوس د لر او بر په مېنځ کښې د ترون لارې پېدا شوې

د وطن ځلمي مې شمسه څۀ بې وخته لاړل مړۀ شو
ناوې قبر ته شوې پاتې د کونتون لارې پېدا شوې

## اکمل لېونے

کۀ د یو سر نه د دنیا لاړ شي بل سرته خلق
لکه زمونږ به سپېرۀ ونۀ وینې چرته خلق

د خدائے په زمکه کښې په نوم زمکې زمونږ هم شته خو
پکښې مو نۀ پرېږدي د خپلې خوښې کر ته خلق

انقلاب راغے خو بدلون پکښې څۀ داسې وشۀ
ډېرو د خپر خبرو ولمسوو شرته خلق

د غل او ساز پېژندګلو به پکښې څنګه وشي
په رڼا ورځ ناست دي د یو د بل کنډر ته خلق

اوس د جذبو اظهار هر څوک په ور دننه کوي
د کوره نۀ وځي په چاپسې بهر ته خلق

سوات د سېل ځائے ۀ خو اوس تلل ورته څۀ توقې نۀ دي
هلته وتې ترې د وینو اوبو خور ته خلق

کابل نور مۀ یادوئ هر ځائے اوس کابل دے
د باجوړ نه مهاجر شۀ پښور ته خلق

چې په حجره جومات کښې نشته د سر امن د چا
د مجبورۍ نه ننوتے دے مندر ته خلق

حالاتو داسې په ژوندون پښېمانه کړي دي چې
د خدایه مرګ غواړي په طمع دي محشر ته خلق

چې ئې په سپینه ډاګه داسې بې اسرې پرېښودل
اوس خو به خامخا رهزن وائي رهبر ته خلق

اکمله خدائے ئې هم بې شکه په هغو وسپاري
بغېر د خدایه چې ودرېږي د بل در ته خلق

## اکرام الله ګران

زړۀ دے نــو ارمـــان بـــه خامخـــا لـــري
مينــــه او جانـــــان بـــــه خامخـــا لـــري
ژونـد کـۀ خـاورې خـاورې دے پـه زمکـه پـروت
خيـــال د لـــوړ اســـمان بـــه خامخـــا لـــري
عشـــق پـــه دغـــه پُولـــه چـرې لاړ نـــۀ شـــو
عقـــل ســـود او زيـــان بـــه خامخـــا لـــري
زۀ هـــم يـــو منـــزل پـــه تصـــور لـــرم
لار، نـــوم او نښـــان بـــه خامخـــا لـــري
چـــا چـــې د بلبلـــو نغمـــې زده کړلـــې
پـــوئې دې شـــي زنـــدان بـــه خامخـــا لـــري
ګـــل هـــم پـــه جنـــون د چـــا نـــه کـــم نـــۀ دے
خپـــل خيـــرې ګرېـــوان بـــه خامخـــا لـــري
شـــور د جبـــر غبـــړه کښـــې خاموشـــه شـــو
خـــوب آه فغـــان بـــه خامخـــا لـــري
ځـــوک چـــې د غـــزل د ښائســـت مـــخ وينـــې
دا رښـــا يـــو ګـــران بـــه خامخـــا لـــري

## ايوب مظلوم مېخ بند

زۀ چـې خپـل قاتـل تـه د درمـان پـه نظـر ګورمـه
ځکـه مـې نـن ژونـد تـه دارمـان پـه نظـر ګورمـه
بس چې پـه ځُلۀ خوږ وي ځوک لـه شاتو د شکرو نه
ځـان مـې شـي هغـه تـه د جانـان پـه نظـر ګورمـه
دا چـې زمـا ډېـره سـادګي نـۀ ده نـو نـور څـۀ دي؟
زۀ هـر يـو سـړي تـه د خپـل ځـان پـه نظـر ګورمـه
چيـت او اوچـت دواړه پـه يـوه تولـه کښـې وُلمـه
دواړو وتـه زۀ د پـاس اسـمان پـه نظـر ګورمـه
ځـوک هـم چـې کـوي ماتـه خبـرې پـه پښـتو ژبـه
زۀ ورتـه د لـوئے کـور، لـوړ افغـان پـه نظـر ګورمـه
بيا ئې پـه کړۀ وړۀ کښـې مظلوم هغـه ځـۀ ونۀ وينم
کـوم قامـت تـه زۀ چـې د يـو شـان پـه نظـر ګورمـه

## پروفېسر رحمت الله "درد"

لـه تانـه زيـات کـۀ بـل عـذاب نشـته
اے محبتــه! ســتا ځــواب نشـــته
نـــوے نظـــام د مېخـــانې عجـــب دے
پېمـــانې ډېـــرې دي شـــراب نشـــته
زمـا د خـان پـه کشـاده مکـان کښـې
هـر څـۀ بسـيار دي خـو کتـاب نشـته
دا کــوم پــړاؤ د محبــت دے يـــاره؟
ســکون هــم نشــته، اضـطراب نشــته
مشـــکل بـــه نـــۀ وي امتحـــان د مينـــې
چـې ئـې مکتـب نشـته، نصـاب نشـته
د وخت لمـن کښـې هـم ازغـې ازغـې دي
زمـا پـه لاس کښـې هـم ګـلاب نشـته
درد او کۀ يار ورباندې ډېر شيرين دے
درد او د يــار دغـــه حســـاب نشـــته

## ثمين يوسفزے

ســتا د خلــوص ســتا د وفــا تــږې يــو
لالــيــه مـــونږ بـــلا بـــلا تـــږې يـــو
خونـــد د ســـاقي ســـره انکـــار نـــۀ کـــوې
مـــونږ لـــه ډک ډک جامونـــه را تـــږې يـــو
د ســمندر خــوا کښــې اوســېږو خــو بــس
د ابتـــداء تـــر انتهـــا تـــږې يـــو
هســې خـو خـور پـه ټـول جهـان دے حُسـن
مـونږ سـتا د عشـق د لېونتيـا تـږې يـو
هـــر ماښـــام خپلـــه غريبـــې وژاړو
اودۀ خـــو شـــو خـــو تـــر ســـبا تـــږې يـــو
مـونږ د نظـر پـه سـمندر کښـې ډوب کـه
د دشـــتې تـــږې د صـــحرا تـــږې يـــو
پښـتونه عشـقه سـر لـوړې تـه دې مـونږ
لکـــه حســـېن د کـــربلا تـــږې يـــو